مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شیرمحمدامیني ستانکزی
۲۰۱۹/۰۹/۰۲

# لنډ مهاله حکومت د څه لپاره؟

په قطر دوحه ښار کې د طالب او امریکا استازو ترمنځ دسولې په اړه خبرې او اترې رواني دي او پټيل شوې، چې په لنډو ورځو کې به دواړه لوري دسولې هوکړه لیک لاسلیک کړي، چې تر دې مهاله پورې دطالبانو او امریکا استازو له خوا کوم هوکړلیک باندې چې سلاشوې هغه مادې يې د رسنیو په واک کې ندي ورکړې، څو ولس ته د دوی دمذاکراتو پايلې په ډاګه شي. خو داسې ګنګوسې رواني دي، چې په دغو موادو کې یو هم په هېواد کې دلنډمهالي حکومت رامنځته کېدل دي.

ولسونو په داخو لسېزو کې بېلابېل نظامونه ولیدل او پايله یې دوخت په تاریخونوکې لیکل شوې، چې کوم نظام دولس او دهېواد په خیر تمام شوی، خو دا پریکړه ولسونو ته پرېږدو او نوی نسل به دتاریخ پاڼو ته مراجعه او ځان به پرې پوه کړي، چې آیا په هېواد کې کوم نظام ځلېدلې او کوم یو يې دهېواد دتباهۍ په ګټه کار کړئ .

راځو دې ته چې دافغان هربچي سولې او پرمختګ ته ژمن او لېوال دي، څو په هېواد کې سراسري امنیت خوندي شي او ولس په داډه زړونو خپل ورځنیو چارو ته مخه کړي او دسولې په راتګ به ټول ولس ددې شاهدان هم واوسي، چې هېواد به د نورو له احتیاج څخه خلاص او پرخان دبسیا کېدو په لور ګامونه واخلي .

اوسني وضعیت ته په کتو؛ افغانان نه غواړي، چې دپردیو هېوادونو سیاسي مانورونو ته غاړه کېږدي، ځکه ډېرې ناخوالې چې په هېواد کې مخکې یا همدا مهال لیدل کیږي، زموږ په کورنیو چارو کې دګاونډیو یا نورو هېوادونو لاسوهنې وې، چې زموږ یوالي ته يې سترزیانونه اړولي او لا نورهم غواړي، چې زموږ اقتصادي نظام ته دبېلابېلو تاوانونو په اړولو سره خپل اقتصادي ځواکمنتیا پرموږ تحمل کړي .

سمه ده، چې دسولې ملي پروسې ته دولت او هم ولس لبیک وايي، خو دداسې سولې چې دټولوهېوادوالو ملي ګټې پکې خوندي وي، ولې ددې لپاره حکومت او هېوادوال دا نه غواړي، چې دسولې تش په نوم داسې پروسه رامنځته شي، چې د څو محدودوافغانانو ګټې پکې پاتې او کړيدلي ولس دې له ناورین سره مخ وي .

افغانستان په تېرو نولس کلونو کې لويي او پرمختللي لاسته راوړنې درلودلې او داقتصاد له پلوه ګاونډهېوادونو ته يې غاښ ماتوونکی ځواب ورکړل شوی، خو ددې لپاره چې ټول افغان ولس دې ته متوجه وي، چې دسولې او امنیت په خوندیتوب کې دطالب او افغان حکومت (بین الافغاني) خبرې او اترې کیدونکي دي، دګاونډ هېوادونو په ځای دهغوی مشورې او غوښتنې په هیڅ صورت دخلکو لپاره دمنلو وړ نه دي، طالبان دې هم دې ټکي ته ځیر وي، چې دپرمختللي او ډېمن افغانستان جوړيدل یوازې افغانان کولای شي نه بهرني هېوادونه.

په هېواد کې پیاوړی نظام داقتصادي، سیاسي، ټولنیز او نور برخو په پراختیا کې شتون لري، نوبیا دیو لنډ مهالي دورې رامنځته کولو ته څه اړتیا شته. آیا دموقت حکومت رامنځته کېدل په اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او نورو برخو کې څومره منفي اغیزې به وکړي؟ خو غوره داده، چې دبین الافغاني خبرو او اترو له لارې په موجوده نظام کې ځینې تشې او طالب یا هم دولت له خوا دکومو غوښتنو موضوع مطرح کېږي داهم په ورين تندي دواړه لوري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دی  دخبرو له لارې ومني، نوره اړتیا  نشته چې موږ بهرني هېوادونه سره جوړ کړي، باید په خپلو کې سره موږ خپله جوړ شو.

ان شاءالله  اوسنی دسولې هڅې چې رواني دي، ډیر پرمختګونه شوي او د بېوزلو هېوادوالو هېلې هم راټوکیدلي او خوښ دي، چې په هېواد کې دادمن امنیت راتلونکی دی.

حکومت او طالب دې په خلاص تندې دیو بل غوښتنې دخلکو او هېواد دخیر او فلاح لپاره ومني او  د امنیت  راتګ ته دې لبیک ووایي؛ یو خو به  زموږ په هېواد کې بهرنی هېوادونه چې په پټه یا ښکاره ډول مداخلې کولې دهغوی مخونه به تور شي او له بل پلوه به  زموږ ملي یوالي او ملي پرمختګونه دهېواد په سراسري سیمو کې  خواره او تلپاتې به وي .

شیرمحمدامیني ستانکزی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ